# Refugee agencies help and advice

Pushto

July 2007

# له ټولنی سره د یو ځای کیدو له پاره پور ورکول

**آیا تاسو ته د کډوال او یا هم په انسانی بنسټ باندی د ژغورنی دریځ ، د 2007 کال د جون د میاشتی له 11 می نیټی نه وروسته درکړ شوی دی؟ که داسی وی، نو کیدای شی چی تاسو د حکومت لخوا له ټولنی سره د یو ځای کیدو له پاره د پور اخیستلو مستحق وی.**

## له ټولنی سره د یوځای کیدو له پاره پور څه ته وایي؟

له ټولنی سره د یو ځای کیدو له پاره پور داسې پورونه دي چې ګټه یا سود پرې نه شي اخیستلی تر څو له کډوالو او هغه کسانو سره چې په انسانی بنسټ باندی ژغورنه یې تر لاسه کړی ده په بریتانیه کی خپل نوی ژوند پیل کولو کښې ورسره مرسته وکړی. هیله کیږی چې یاد ولری چی دا یو داسې پور دی کوم په اړه چی له تاسو نه دا توقع کیږی چی په راتلونکی کی یې بیرته ورکړی.

## له دی پور نه د څه شی لپاره کار اخیستل کیدای شی؟

د هغو شیانو مثالونه، د کوم له پاره چی کیدای شی تاسو پور ته اړتیا ولری، دا دی: د هستوګنځی له پاره امانت ایښودل؛ د کور له پاره ضروری سامان؛ د سفر کولو کارتونه تر څو مرکو او یا هم کار ته ځان ورسوی؛ د کار د ځای کالی او یا هم سامان؛ زده کړه او وړتیا تر لاسه کول. که چیری تاسو په زده کړی او یا روزنه باندی بوخت یاست، نو کولای شی چی د ژوند کولو د اصلي مصارفو له پاره د پور درخواست ورکړی. دا پور د غیر ضروری شیانو له پاره په نظر کی نه دی نیولی شوی.

## څوک کولی شی چی له ټولنی سره د یوځای کیدو پور ترلاسه کړی؟

د پور له پاره غوښتنلیک ورکولو له پاره، ستاسو عمر باید چی له 18 کلو نه پورته وی او همدارنګه د کډوال دریځ او یا په انسانی بنسټ د ژغورنی دریځ درکړ شوی وی. تاسو نشی کولی چی د پور لپاره له یوځل نه زیات غوښتنه وکړی.
که تاسو او ستاسو د ژوند ملګری دواړه د پور لپاره غوښتنلیک ورکولو ته وړ یاست، تاسو کولای شی چی په ګډه سره غوښتنلیک ورکړی. دواړه د ژوند ملګري د ګډ پور د پری کولو او یا بیرته ورکولو په اړه برابر مسوولیت لری.

## د څومره پیسو له پاره غوښتنلیک ورکولی شی؟

د پور اندازه به ستاسو د مشخصو او ځانګړو اړتیاوو او وضعیت په نظر کی نیولو سره معلومه کړای شی. دا کیدای شی چی د 100 او 1000 برتانوي پونډو تر منځ وی. دا د یوازی او ګډ ، دواړو غوښتنلیکونو له پاره صدق کوی.

## دا پور به څه ډول ورکولی شی؟

په عمومی ډول سره، د پور پیسی د بانک په حساب کی اچول کیږی. که تاسو د بانک کوم حساب نه لری، او ستاسو پور تر 450 برتانوي پونډو څخه کم وی، تاسو کولای شی چی چک تر لاسه کړی. دا چک یوائی په هغه پوستی خونه کی نغد کیدای شی چی تاسو یی په خپل غوښتنلیک کی نوم ذکر کړی وی.

## دا پور به څه ډول بیرته ورکولی شی؟

د پور بیرته ورکول او یا ادا کول د هغی له اخیستلو نه عموما 6 اونۍ وروسته پیل کیږی. که تاسو کار لری، د کار او تقاعد ځانګه (Department for Work and Pensions) به نیغ په نیغه له تاسو سره اړیکی ونیسی تر څو په دی اړه خبری درسره وکړی. که چیری تاسو د معاش ملاتړ (Income Support) ، د کار لټوونکو له پاره د معاش په بنسټ مرسته (Income-Based Jobseeker's Allowance)، او یا هم د تقاعدی مرسته (Pension Credit) ترلاسه کوی، د پور پیسی به نیغ په نیغه ستاسو د مرستی له پیسو نه واخیستلی شی. د پور د بیرته اخیستلو کچه به په ډیره ټیټه اندازه وی.

## آیا زه به د نورو مالی مرستو له پاره هم وړ اووسم؟

که دا پور د دی له پاره وی چی له تاسو سره د نوری روزنی، زده کړی او یا هم کار په اړه، سره د ژوند او د ماشومانو د پاملرنی د مصارفو، مرسته وکړی شي ، نو تاسو ته په کار دي چی په لومړی ګام کی په دی اړه له خپل کار موندنی مکتب (Jobcentre Plus) سره خبری وکړی. هلته کیدای شی چی د مالی مرستی نور ډولونه هم ستاسو له پاره وی چی هیڅ ډول بیه هم و نه لری.

## د پور له پاره څه ډول غوښتنلیک وکړو؟

د سرحدونو او کډوالی اداره (Border and Immigration Agency) ښایی چی لا مخکی یی تاسو ته د هغه تصمیم نیونی لیک سره یوځای چی ستاسو ته د کډوال او یا په انسانی بنسټ د ژغورنی دریځ درکوی، د ټولنی سره د یوځای کیدو له پاره د پور د غوښتنلیک فورمه هم درلیږلی وی. که تاسو هغه نه وی ترلاسه کړی، تاسو کولای شی چی د ټولنی سره د یوځای کیدو له پاره د پور ورکولو ډلی (Integration Loan Team) ته ، چی د سرحدونو او کډوالو اداری یوه برخه ده، په ټیلیفون کولو سره یې ترلاسه کړی. د دوی د ټیلیفون شمیره دا ده: 020 8196 5440.

د کډوالو اداری، لکه د کډوالو کړنی (Refugee Action) ، د کډوالو له پاره د مرستی کرخه (Migrant Helpline)، د سکاټلینډ د کډوالو کونسل (Scottish Refugee Council)، د کډوالو کونسل (Refugee Council) او د ویلش د کډوالو کونسل (Welsh Refugee Council) کولی شی چی له تاسو سره د غوښتنلیک په ډکولو کی مرسته وکړی. نوری اداری، لکه د کډوالو ټولنیزې اداری او یا د وګړو مشاورنی بیوروکس (Citizen's Advice) هم کیدای شی چی له تاسو سره مرسته وکړی.

## د پیسو په اړه سلا مشوره

په یاد ولری چی تاسو به د پور پیسی بیرته ورکوی، نو ځکه خو دا مهمه ده چی تاسو صرف هومره پور واخلی چی هغه بیرته ورکولی شی. کیدای شی چی تاسو له نورو سرچینو نه هم د پیسو د ترلاسه کولو مستحق وی، کوم په اړه چی تاسو اړ نه وی هغه بیرته ورکړی. هیله کیږی چی لومړی په همدی اړه تر ټولو نژدی د کډوالو سره د مرستی له اداری سره خبری وکړی.